# مشاوره تحصیلی هیوا

## تخصصی‌ترین سایت مشاوره کشور

تماس با مشاوران ما، با شماره گیری

**۹۰۹۹۰۷۵۳۰۵**

از طریق تلفن ثابت

## د ۱۴۰۵ کال د فوق لېسانس پروګرامونو د کانکور ازموینې د نوملیکنې اړینې لارښوونې

۱. په ټولېزو ازموینو کې د ګډون له پاره، ټول غوښتونکي باید د ازموینو ملي ادارې د نوملیکنې فورم ډک او د نوملیکنې مراجعو ته یې په ټاکلې وخت وسپاري. هیڅ غوښتونکی د نوملیکنې د فورم د ډکولو او پر وخت تسلیمۍ پرته، په ازموینه کې د ګډون حق نه لري.

۲. د نوملیکنې فورمه وړیا ده او هر غوښتونکی کولای شي په آنلاین ډول یې د ازموینې ملي ادارې له ټولنیزو او رسمي وېب پاڼو څخه تر لاسه کړي.

۳. د فوق لېسانس کانکور ازموینې حق الشمول ماسټري (۵۰۰) او دوکتورا (۱۰۰۰) افغانۍ دي چې د نوملېکنې له ډک شوي فورم سره به د فوق لېسانس پروګرام اړوند امارتي پوهنتون ته سپارل کېږي. (ازموینه به د اړوند امارتي پوهنتون ولایت کې واخیستل شي)

۴. **د فورم مسلسله شمېره:** دا برخه د فورمو د ټولولو او لېست کولو مسؤول له خوا ډکېږي او په لېست کې د فورمې مسلسله شمېره دې په فورمه باندې هم ولیکل شي.

۵. د نوملیکنې ډول **(ماسټري/دوکتورا)** غوره او د نوملیکنې فورمه باید **په کمپیوټري توګه** ډکه شي.

۶. په فورمه کې له ګډونکوونکي څخه غوښتل شوي **معلومات** ټول اړین دي.

۷. **عکس:** په فورمه باندې لګول شوی عکس باید له خولۍ، ماسک، عینکو او داسې شیانو څخه پرته اخیستل شوی وي، چې مخ پټ کړي؛ عکس له ٦ میاشتو څخه زوړ نه وي او سپین بګروند ولري.

۸. **نوم، د پلارنوم، تخلص، د نیکه نوم او د زېږېدو کال** د اصلي تذکرې مطابق ورسول شي او د پېژندګلوي معلومات په جلا تورو هم په واضح توګه ولیکل شي.

۹. د فوق لیسانس ټولو ازموینې لپاره د **الکترونیکي پېژندپاڼې شتون حتمي دی.**

۱۰. **د نړیوالې ژبې ازموینه:** د فوق لېسانس هغه پرګرام له پاره چې (انګلیسي یا عربي) د نړیواله ژبه په توګه اعلان شوې وي د ګډونکوونکي انتخاب نه منل کېږي. هغو پروګرامونو له پاره چې په کوم رشته کې (انتخابي) ورته لیکل شوي وي؛ د یوې ژبې (انګلیسي یا عربي) غوراوی اړین دی. (د نړیوالې ژبې په ازموینه کې بریالیتوب د مسلکي ازموینې د رقابت له پاره شرط دی)

## رهنمود ثبت‌نام امتحان کانکور شمولیت در برنامه های فوق لیسانس سال ۱۴۰۵

۱. تمام اشتراک کننده‌گان امتحانات جمعي، جهت اشتراک در امتحان، مکلف اند؛ تا فورم ثبت نام اداره ملی امتحانات را تکمیل نموده و به وقت معینه به مراجع ثبت‌نام امتحان تسلیم دهند. هیچ داوطلب امتحان بدون تسلیمی به موقع فورم‌ثبت نام امتحان، حق شمولیت در امتحان را ندارد.

۲. فورم ثبت‌نام رایگان بوده و در صفحات اجتماعی و انترنیتی ادارهٔ ملی امتحانات به صورت آنلاین قابل دریافت است.

۳. حق‌الشمول امتحان کانکور فوق لیسانس ماستری مبلغ (۵۰۰) و دوکتورا مبلغ (۱۰۰۰) افغانی بوده که با فورم خانه‌پُری و تکمیل شده یکجا به برنامه فوق لیسانس پوهنتون مربوطه تحویل داده می‌شود. (امتحان در ولایت پوهنتون مربوطه اخذ میگردد)

۴. **شمارهٔ مسلسل فورم:** این بخش توسط مسؤول(کسی که فورمه‌ها را جمع‌آوری و لیست می‌کند) پُر می‌شود، و باید شماره فورم از لیست، در قسمت **(د فورم مسلسله شمېره)** فورم نوشته شود.

۵. نوعیت ثبت نام **(ماستری/دوکتورا)** را انتخاب و فورم باید **به شکل کمپیوتری** خانه‌پُری گردد.

۶. درج و نوشتن تمامی معلومات خواسته شده از داوطلب، در فورم ضروری است.

۷. **عکس:** عکس باید بدون کلاه، عینک، ماسک و دیگر اشیای که چهره را پنهان نماید، در فورمه نصب گردد و باید بیشتر از ٦ ماه از اخذ آن نگذشته و دارای بگروند سفید باشد.

۸. **نام، نام پدر، نام پدرکلان و سال تولد** مطابق تذکره رسانیده شود و معلومات شهرت با حروف الفبا نیز در جدول یا چوکات مربوطه به طور واضح درج شود.

۹. جهت اشتراک در امتحان برنامه های فوق لیسانس **موجدیت تذکره الکترونیکی حتمی میباشد.**

۱۰. امتحان **زبان بین المللی:** برای برنامهٔ فوق لیسانس که زبان بین المللی (انگلیسی یا عربی) قید و اعلان شده باشد، انتخاب داوطلب قبول نمیشود. برای برنامهٔ که زبان بین المللی (انتخابی) اعلان شده باشد؛ انتخاب یکی از زبانهای (عربی یا انگلیسی) حتمی میباشد. (کامیابی این امتحان زبان بین المللی برای رقابت در امتحان مسلکی شرط است)

۱۱. **د ازمويني ژبه:** د فوق لېسانس هغو پروګرامونو له پاره چې د ازموينه ژبه يې (انګليسي يا عربي) قيد او اعلان شوې وي، د ګډونکوونکي انتخاب نه منل کېږي. هغه رشتې چې په کوډ رشته کې د ازمويني ژبه (ملي) اعلان شوې وي؛ د يوې ژبې (دري يا پښتو) غوراوی اړين دی.

۱۲. غوره شوی **پروګرام:** بايد د ګډونکوونکي د زده کړې له رشتې سره سم په بشپړه توګه (پوهنتون، پوهنځی، څانګه او کوډ يې (د اعلان شوې کوډ رشتې له مخې)) ورسول شي.

۱۳. د اصلي استوګنځي ټول معلومات (**ولايت، ولسوالۍ او کلی**) بايد د اصلي پېژندپاڼې سره سم وليکل شي.

۱۴. **د ورستۍ زده کړې دورې معلومات** په سمه توګه د سندونو سره سم ورسول شي او د اړوند پوهنتون له خوا د ګډونکوونکي (عکس، د زده کړې رشته، د نمرو فيصدي او فراغت) تائيد وشي.

۱۵. د فورمې تر بشپړولو وروسته (**د ګډونکوونکي لاسليک**) اړين دی، چې په فورمه کې د رسول شويو معلوماتو د سموالي خرګندونه کوي. بې لاسليکه فورمه د منلو وړ نه ده.

۱۶. **د رقابت ډول:** يوازې هغه برحاله کادري غړي يا امارتي کارکوونکي چې غواړي د فوق لېسانس پروګرام ورکړل شويو سهمونو له پاره رقابت وکړي د **فراغت د تائيدۍ ترڅنګ، د دې برخې تائيدي هم بايد ولري؛**

**يادوونه:** د **آزاد رقابت** ګډونکوونکي د دې برخې تائيدي ته اړتيا نه لري

- ✓ **علمي کادر غړی** بايد يوازې د لوړو زده کړو وزارت د امارتي پوهنتون برحاله کادري غړی وي.
- ✓ **امارتي کارکوونکی** بايد د يوې امارتي ادارې (وزارت/اداره) برحاله کارکوونکی وي.
- ✓ د ټولو کادري غړو او امارتي کارکوونکو معلومات (نوم، د پلار نوم، د نيکه نوم، د فوق لېسانس رشته او برحاله بست) بايد د **ګډونکوونکي د بست اړوند رشتې سره سم**، د خپلې ادارې له خوا د اړوند معينيت په امضا، رسماً په کتبي ډول د **لوړو زده کړو وزارت** ته واستول شي.



۱۱. **زبان امتحان:** برای آنعده برنامه های فوق لیسانس که زبان امتحان (انگلیسی یا عربی) قید و اعلان شده باشد، انتخاب داوطلب قبول نمیشود. برای برنامه های که زبان امتحان (ملی) اعلان شده باشد؛ انتخاب یکی از زبانها (دری یا پشتو) حتمی میباشد.

۱۲. **برنامه** انتخابی باید مطابق رشتۀ تحصیلی داوطلب به طور مکمل (پوهنتون، پوهنځی، دیپارتمنت و کود آن (به اساس کود رشۀ اعلان شده)) درج گردد.

۱۳. تمام معلومات سکونت اصلی (**ولایت، ولسوالی و قریه**) باید مطابق تذکره اصلی تابعیت نوشته شود.

۱۴. **معلومات آخرین دوره تحصیلی** باید به اساس اسناد تحصیلی درج گردیده و از طرف پوهنتون مربوطه (عکس، رشته تحصیلی، فیصدی نمرات و فراغت) داوطلب تائید شود.

۱۵. بعد از خانه‌پُری فورم (**امضای داوطلب**) حتمی است که معلومات درج شدۀ فورم را تأیید می‌کند. بدون (امضای داوطلب) فورم قابل قبول نیست.

۱۶. **نوع رقابت:** تنها اعضای کادر علمی و یا کارمندان امارتي که میخواهند برای سهم داده شده برنامه های فوق لیسانس رقابت نمایند، **بر علاوه تائیدی فراغت، تائیدی این قسمت را نیز باید داشته باشند؛**

**یادداشت:** داوطلبان **رقابت آزاد** به تائیدی این بخش ضرورت ندارند

- ✓ **عضو کادر علمی** تنها استادان کادری برحال پوهنتون های امارتی وزارت تحصیلات عالی باشد.
- ✓ **کارمند امارتی** باید کارمند برحال یکی از ادارات (وزارت/اداره) امارتی باشد
- ✓ معلومات (نام، نام پدر، نام پدرکلان، رشته فوق لیسانس و بست برحال) تمام اعضای کادر علمی و کارمندان امارتی، باید **به رشته فوق لیسانس مطابق بست داوطلب**، به امضای معینیت مربوطه به شکل رسمی کتباً؛ **به وزارت تحصیلات عالی** ارسال گردد.

- ✓ سهم ته پېژندنه باید د لوړو زده کړو وزارت د امارتي محصلانو چارو ریاست له لورې د ګډونکوونکي د پېژندګلوۍ معلوماتو او رشتې ته په کتلو، د نوملیکنې په فورم باندې **اړوند معلومات درج او تائیدي** ولري.
- ✓ کادري غړي او امارتي کارکوونکي دې له خپلې اداري څخه د پېژندګلوي مکتوب، د نوملیکنې له ډک شوي فورم سره مل او د **فوق لیسانس پروگرام اړوند پوهنتون** ته وسپاري.

**یادوونه:** د لوړو زده کړو وزارت له خوا د رقابت د ډول د تائیدۍ او د مکتوب د کاپي د نه شتون په صورت کې، په بل هیڅ ډول اسنادو باندې د **سهم رقابت ته اجازه نه ورکول کېږي**.

۱۷. د نوملیکنې فورمې په شاته برخه باندې دې د ګډونکوونکي **برېښنايي پېژندپاڼه** کاپي شي.

۱۸. د نومليکنې فورمه باید تر پشپړولو وروسته په فورمه باندې د **ليکلي نېټې** څخه مخکې د فوق لیسانس **پروگرام اړوند امارتي پوهنتون** ته وسپارل شي. (له ورکړل شوې نېټې څخه وروسته فورمه د منلو وړ نه ده او په ازموینه کې د ګډون اجازه نه ورکول کېږي)

۱۹. د فوق **لیسانس پروگرام اړونده پوهنتون** له خوا د ګډونکوونکي (د غوره شوې رشتې سره د زده کړو د رشتې سمون او د اړتیا فیصدي د اسنادو له مخې) چک او **شارت لیست یې تائید** شي.

**۲۰. که په فورمه باندې درج شوي معلومات ناسم او یا غلط** رسول شوي وي، ګډونکوونکی **به د اسنادو د جعل په تور عدلي او قضايي مراجعو ته معرفي کېږي.**



- ✓ معرفی به سهم، از طرف ریاست محصلان امارتی در وزارت تحصیلات عالی، با درنظر داشت معلومات ارسالی از طرف وزارت/اداره مربوطه و رشته انتخابی داوطلب در فورم ثبت **نام درج شده، و تائید** گردد.
- ✓ اعضای کادر علمی و کارمندان امارتی، کاپی مکتوب معرفی از اداره خود را با فورم ثبت نام تکمیل شده **ضمیمه** و **به برنامه فوق لیسانس پوهنتون** مربوطه تسلیم نمایید.

**یادداشت:** در صورت عدم موجودیت تائیدی نوع رقابت از طرف وزارت تحصیلات عالی و موجودیت کاپی مکتوب، با هیچ سند دیگر **رقابت برای سهم اجازه داده نمی شود.**

۱۷. در عقب فورم ثبت نام تذکرۀ الکترونیکی داوطلب ، کاپی گردد.

۱۸. بعد از خانه‌پُری و تأییدی مکمل، فورم ثبت نام قبل از **تاریخ معین مندرج** در فورم، فورم به **برنامه فوق لیسانس پوهنتون امارتی** مربوطه سپرده شود. (سپردن فورم ثبت نام بعد از تاریخ درج شده در فورم قابل قبول نبوده و در امتحان تنظیم نمی‌گردد.)

۱۹. از طرف برنامه **فوق لیسانس پوهنتون** مربوطه (مطابقت رشته تحصیلی با رشته انتخابی و فیصدی نمرات مورد نیاز از روی اسناد) داوطلب چک و **شارت لیست آن تائید** گردد.

**۲۰. اگر معلومات نوشته شده در فورم ثبت‌نام درست نباشد، داوطلب به دلیل جعل و تزویر اسناد به ارگان‌های عدلی و قضایی کشور معرفی می‌شود.**

# د ۱۴۰۵ کال لپاره د کابل پوهنتون د فوق لېسانس پروګرام کوډ رشته

| پوهنتون | پوهنځی | ماستری برنامه/ پروګرام | نړیواله ژبه | ازموینې ژبه | کوډ |
|---|---|---|---|---|---|
| کابل | ټولنیزعلوم | افغانستان پېژندنه | انتخابي | ملي | 7533 |
| | کمپیوټرساینس | معلوماتي سیستمونه | انګلیسي | انګلیسي | 7571 |
| | | معلوماتي تکنالوژي | انګلیسي | انګلیسي | 7514 |
| | ښکلي هنرونه | لیدني او ننداریز هنرونه | انګلیسي | ملي | 7582 |
| | فزیک | هستوي فزیک | انګلیسي | ملي | 7591 |
| | اقتصاد | سوداګرۍ اداره | انګلیسي | انګلیسي | 7531 |
| | اقتصاد | مالي او بانکي چارې | انګلیسي | انګلیسي | 7541 |
| | ژبې او ادبیات | دري ژبې او ادبیات | انتخابي | دري | 7592 |
| | | پښتو ژبې او ادبیات | انتخابي | پښتو | 7513 |
| | زراعت | اګرانومي | انګلیسي | ملي | 7534 |
| | | حیواني علوم | انګلیسي | ملي | 7544 |
| | | بنوالي | انګلیسي | ملي | 7554 |
| | | نباتاتو ساتنه | انګلیسي | ملي | 7564 |
| | | کرنیزې سوداګرۍ مدیریت | انګلیسي | ملي | 7574 |
| | ځمک پوهنه | هایدرولوژي | انګلیسي | ملي | 7511 |
| | کیمیا | صنعتي کیمیا | انګلیسي | ملي | 7512 |
| | ارتباطات او ژورنالیزم | ټولنیز ارتباطات | انتخابي | ملي | 7522 |
| | حقوق او سیاسي علوم | نړیوالې اړیکې | انتخابي | ملي | 7532 |
| | | جزا حقوق او جرم پېژندنه | انتخابي | ملي | 7542 |
| | انجنیري | نوې کېدلو وړ انرژۍ او انرژۍ موثریت | انګلیسي | انګلیسي | 7551 |
| | | برېښنا او الکترونیکي انجنیري | انګلیسي | انګلیسي | 7561 |
| | ارواپوهنه او روزنیزعلوم | ښوونیز مدیریت | انګلیسي | ملي | 7543 |
| | | ښوونیز پلان او پالیسي | انګلیسي | ملي | 7553 |
| | | عمومي اروا پوهنه | انګلیسي | ملي | 7563 |
| | شرعیات | تفسیر او حدیث | عربي | عربي | 7573 |
| | | فقه او قانون | عربي | عربي | 7583 |
| | | اسلامي ثقافت | عربي | عربي | 7593 |
| | | دعوت | عربي | عربي | 7581 |
| | | عقیده او فلسفه | عربي | عربي | 7524 |
| | ریاضیات | ریاضیات | انګلیسي | ملي | 7552 |
| | فارمسي | کلینیکي فارمسي | انګلیسي | ملي | 7521 |
| | اداره او عامه پالیسي | عامه ادارې او پالیسي | انګلیسي | ملي | 7562 |
| | بهرنۍ ژبې او ادبیات | عربي ژبې او ادبیات | عربي | عربي | 7523 |
| | وترنرۍ علوم | وترنري طب | انګلیسي | ملي | 7584 |
| | بیولوژي | ایکالوژي | انګلیسي | ملي | 7572 |

| عکس ۳x۴ سپین بګروند بگروند سفید |
|---|

د فورم وړیا او آنلاین موندل کېږي!
این فورم رایگان و آنلاین دریافت میشود!

**New Form**

حق الشمول: دوکتورا (1000)/ماستری (500) افغانی

د فورم مسلسله شمېره (                )

پوهنتون (                )

پوهنځی (                )

افغانستان اسلامي امارت

د ازموینو ملي اداره

( ) دوکتورا / ( ) ماسټري

# په امارتي پوهنتونونو کې (فوق لیسانس) پروګرامونو ته د شمولیت د ازموینې لپاره د نوملیکنې فورم (کال ۱۴۰۵)

| شهرت (په ملي ژبو/به زبان های ملی) | | هر نوم په جلا تورو ولیکئ/هر نام را به حروف جداگانه بنویسید! |
|---|---|---|
| نوم/نام | | |
| د پلار نوم/نام پدر | | |
| تخلص | | |
| د نیکه نوم/نام پدرکلان | | |
| د زیږیدو کال/سال تولد | | نړیواله ژبه / زبان بین المللی — پوازې ملي ژبې — د ازموینې ژبه/زبان امتحان |
| جنسیت | ( ) نارینه/ذکور - ( ) ښځینه/اناث | ( ) عربي \| ( ) انګلیسي — ( ) پښتو \| ( ) دری |
| Email ID: | | پروګرام/برنامه ( ) — کود |

## اوسنی استوګنځی/سکونت فعلی

| ولایت | ولسوالی | ناحیه-کلی | د کور پته/آدرس خانه | د اړیکې شمیرې |
|---|---|---|---|---|
| | | | | ۱. |
| | | | | ۲. |

## اصلي استوګنځی/ سکونت اصلی

| ولایت | ولسوالی | ناحیه-کلی | د کور پته/آدرس خانه | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | ۳. |
| | | | | ۴. |

## د برېښنايي پېژندپاڼي شمېره/نمبر تذکره الکترونیکی

*بدون تذکره الکترونیکی ثبت نام مسترد میشود/د برېښنايي پېژند پاڼي پرته نوم لیکنه نه منل کېږي!

## د وروستۍ زده کړې دورې معلومات/ معلومات آخرین دوره تحصیلی

| پوهنتون | پوهنځی | دیپارتمنت/څانګه // برنامه | سال/کال (فراغت) | فیصدي نمرات |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

د رقابت ډول/نوع رقابت ( ) آزاد/ ( ) علمي کادر غړی/ ( ) امارتي کارکوونکی

توجه: کاندیدان رقابت آزاد به تائیدی ذیل ضرورت ندارند!

د لوړو زده کړو وزارت د امارتي محصلانو چارو ریاست دا تائیدوي چې د دې فورم لرونکی د (                ) وزارت/اداري له خوا په (                ) شمېره مکتوب باندې د (                ) رقابت لپاره را پېژندل شوی دی. او کولای شي د ماستری/دوکتورا غوره شوې پروګرام له پاره په یاد رقابت کې ګډون وکړي.

**تائید نوع رقابت** ( مهر ریاست محصلان امارتی )

د ګډون کوونکي ژمنه: پورتني معلومات مې سم او مکمل ډول، پرته له تېروتنې، قلم توړولو، جعل او تزویر لیکلي دي. فورم کې د غلطو معلوماتو لیکلو مسؤولیت زما پر خپله غاړه دی. د ګډونکوونکي لاسلیک (                )

(په فورم کې غوښتل شوي ټول معلومات اړین دي!)

تعهد کاندید: تصدیق مینمایم که معلومات مندرج این فورم را خودم درست، مکمل و دقیق، بدون کدام اشتباه، قلم خوردگی، جعل و تزویر درج نموده ام. در صورت عدم صحت معلومات، مسؤلیت به دوش خودم میباشد.

(تمام معلومات خواسته شده در فورم ضروری میباشد!)

### د فورمې ډکولو له پاره اړینې لارښوونې

- o پر فورمه لګول شوی عکس باید د تایید مهر ولري.
- o که غوره شوی **کوډ په کوډ رشته کې** نه وي، نوملیکنه به لغو شي.
- o د دې فورمې سم ډکولو له پاره، مل 20 مادې لارښود په بشپړه توګه ولولئ.

### رهنمای لازم برای تکمیل نمودن فورم

- o بالای عکس نصب شدهٔ فورم مهر تائید حتمی میباشد.
- o در صورت عدم موجودیت **کود انتخاب شده، در کود رشته**، ثبت نام لغو میشود.
- o جهت تکمیل دقیق این فورم رهنمود 20 ماده ی ضمیمه را مکمل بخوانید.

د لوړو زده کړو وزارت

پوهنځی
د فراغت تائید او مهر (                )

امارتي محصلانو ریاست
تائید او مهر (                )

د پروګرام اړوند پوهنتون
د فوق لیسانس برنامه/پروګرام
د شارت لیست تائید او مهر (                )

پوهنتون/د لوړو زده کړو مؤسسه
د فراغت تائید او مهر (                )

خصوصي محصلانو ریاست
تائید او مهر (                )

توجه: این فورم را بعد از خانه پری و طی مراحل قانونی قبل از تاریخ اعلان شده به پوهنتون مربوطه تسلیم نمایید.

پاملرنه: دا فورم د ډکولو او طی مراحل وروسته د اعلان شوې نېټې څخه مخکې اړوند پوهنتون ته وسپارئ.